## په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان کډوالو حقوقي وضعیت او د هغوي پر وړاندې د افغانستان اسلامي امارت مسئولیت

**لیکوال: عبدالحمید ظهیر**

**علمي او تحقیقي رساله**

**څلورمه برخه:**

### ۵: له افغانستان څخه د بیا مهاجرتونو مخنیوي لارې چارې

دا چې نن ورځ په هیواد کې یو قوي او مرکزي حکومت حاکم ده او د ټولو خلکو غږ اورېدل کېږي همدارنګه ګاونډیو هیوادونو افغان مهاجر په ډېره بې رحمۍ په جبر او زور سره د راویستلو لړۍ پیل کړې نو پکار ده چې د هیواد په داخل کې داسې مواردو باندې کار وکړو تر څو له یو طرفه راستانه شویو مهاجرینو وضعیت ته په ښه توګه رسیدنه وشي او له بله طرف د هیوادوالو له بیا مهاجرت څخه په مشروع او قانوني توګه مخنیوی وشي، تر څو په نورو هیوادونو کې د زلت او توهین آمیزه ژوند څخه خلاص وي په دي برخه کې لاندې اقدامات اړین بولم چې تر سره شي.

### ۵-۱: په هیواد کې د ټل پاتې او سرتاسري امن او ټیکاو رامنځ ته کول

نن ورځ الحمدالله تر ډېره په ټول هیواد کې د سولې او امن فضا خوره ده او هیڅ شخص، ډلې او منافعو ته یې په امنیتي لحاظ کوم خطر نشته حتی د نظام هغه مخالفین چې پرون ورسره په جګړه وه نن په سوله او امن کې ژوند کوي، خو دغه امنیت نه ستړي کېدونکوو او دوامدار مبارزې او کړنو ته اړتیا لري، همدارنګه د امنیت تر څنګ ثبات یو له مهمو مؤضوعاتو څخه شمیرل کېږي چې معمولاً په بعضې حالاتو کې مونږ نن ورځ له پوره ثبات څخه برخمن نه یوو، د مثال په توګه د افغانستان راتلونکی سیاسي وضعیت، اقتصادي وضعیت، تعلیمي مسایل او داسې نور چې د افغانستان اسلامي امارت خپل ملت او خلکو ته باید په دي برخه کې د عملي اقداماتو په تر سره کولو ډاډ ورکړي تر څو د امنیت تر څنګ د خپل هیواد په ثبات او راتلونکي هم باورمند شي.

**۵-۲: عامه پوهاوی**

په دي برخه کې باید ټولو هیوادوالو په ځانګړې توګه هغو وګړو ته عامه پوهاوی او معلومات ورکړل شي چې له هیواد څخه د بهر تللو اراده لري او دا چاره د حکومتي چارواکو، رسنیو، علماوو، مدني ټولنو او ځوانانو له لوري باید په مخ ولاړه شي، هیوادوالو ته د مهاجرت زیانونه، ناخوالې او هغه څه بیان شي چې یاد افراد د مهاجرت په دوران کې ورسره مخامخ کېږي د مثال په توګه (د مهاجرت تر سره کولو لپاره د ډیرو زیاتو مالي مصارفو په غاړه اخیستل، د تر ټولو ستر الهي نعمت یعنې ژوند له لاسه ورکول، د عزت له منځه تلل او جنسي ځورونې، په مقصد هیوادونو کې د مهاجرت درخواست رد کیدل، د پناه غوښتونکو په کمپونو کې په نامعلوم او توهین آمیزه ډول د کلونو لپاره ساتل او پاتې کېدل، غیر قانوني کارونو ته مخه کول چې دا بیا په خپله نورې ډیرې ستونزې لري، بیرته کور او خپل هیواد ته د راستنیدولو امکاناتو نه موجودیت، د مقصد هیوادونو د عامه وګړو له لوري توهین، تحقیر او نه رضایت، د مقصد هیوادونو د حکومتونو له لوري د ښاري په توګه نه پیژندل او اساسي حقونو نه ورکول تر کلونو کلونو، د لارو ډیر لریوالی او خپلو کورنیو په غم او ښادۍ پروګراومونو کې د ګډون کولو امکان نه درلودل، او په نهایت کې د مهاجر وګړي عقلي قوې له منځه تلل روحي او رواني تکالیفو پیدا کېدل دي، دا هغه څه دي چې له حکومت نیولې بیا تر عامو افغانانو پورې د مختلفو برنامو، غونډو او ټولنیزو رسنیو  په واسطه هیوادوالو ته وړاندې او د مهاجرت نه کولو ته یې وهڅوي.

یو بل څه ته هم باید یادونه وکړم هغه دا چې که یو تعداد وګړي پورته ټول خطرونه په غاړه واخلي او مقصد هیواد ته ځان ورسوي بیا هم زما په اند د دنیا او اخرت مسئولیت او تکالیف ور له غاړې کېږي هغه په دوه دلایلو: 1) د دنیا تکالیف یې همدا وه چې پورته مو یادونه ورڅخه وکړه سمه ده چې تر ډیرو تکالیفو تیرولو به یې په مادي لحاظ په ژوند کې ډیر تغیرات راغلي وي خو دا نړۍ یواځې د مادیاتو او پیسو ګټلو ځای نه ده. 2) دوهم داچې په دیني او شرعي لحاظ که وکتل شي لومړۍ خو خپله همدا مهاجر تر ډیره له اسلامي فرهنګ او روزنې لري کېږي په ځانګړې توګه د غربي هیوادونو مهاجرین، له ځان څخه یې ورهاخوا دویم او دریم نسل باالخصوص هغه اولادونه چې په غربي ټولنه کې تولد کېږي اکثریت یې له اسلام او دیني شعائرو لري

روزل کېږي چې د دنیا او اخرت مسئولیت به یې د هغه چا په غاړه وي کوم چې دا فرصت او زمینه یې ورته برابره کړې ده.

نو د یادو ستونزو د مخنیوي په برخه کې د حکومت مسولېت هم جوړېږي، چې ټول هیوادوال په دغه ډول دنیوي او اخروي زیانونو و پوهوي.

**۵-۳: د تعلیمي نهادونو تقویه او کاري فرصتونو برابرول**

د تعلیم تر لاسه کول یو له دیني فریضو او اوسني عصر له مهمو اړتیاوو څخه شمیرل کېږي، چې ښه بیلګه یې زمونږ لاربښود مقدس کتاب (قرانکریم) ده چې د علم په ترلاسه کولو سره پیل شوی، نو اوسنی حاکم نظام هم دا مسئولیت لري چې په تعلیمي برخه کې ډیر څه وکړي دا چې تعلیمي اداري فعاله دي یواځې فعالیت یې کفایت نکوي بلکې په تعلیمي مراکزو کې د کمیت تر څنګ اساسي موضوع د کیفیت ده او حتی ویلای شم چې نن ورځ په ډیرو سیاسي او نظامي معادلاتو او برخو کې تر ډیره د کمیت په ځای په کیفیت محاسبه کېږي بناً زمونږ علمي نهادونه لا ښې توجه، پراختیا او ودې ته اړتیا لري چې د نني عصر له ټولو پیینښیدونکو مؤضوعاتو سره باید متناسب وي په ځانګړې توګه د دیني علومو تر څنګ عصري علومو ته لا ډیر توجه تر سره شي او هغه تصویر چې د نړیوالو، رسنیو او عامه وګړو په منځ کې خپور شوی چې د دیني او عصري زده کړو تر منځ زیات واټن موجود ده، عصري زده کړو ته توجه نکېږي دغه واټن باید له منځ یوړل شي او په عملي توګه په دي برخه کې لا زیات کار وشي په ځانګړې توګه د ښځو په برخه کې د تعلیم او تحصیل زمینه برابرول یې یو له مهمو اقداماتو څخه دي چې باید ترسره او هغه بهانه له منځه ولاړه شي چې اکثریت وګړي ورته اشاره کوي او وایې چې د اولادونو د تعلیم او تحصیل لپاره مهاجرت کولو ته اړ ایستل شوي یوو.

**۵-۴: د حکومت او خلکو تر منځ د فاصلو له منځه وړل**

یو له مهمو شعارونو او کلمو څخه چې هر نظام یې د ځان د بقا لپاره کاروي دا کلمه ده چې مونږ د ملت له منځ یو، ملت مو تر څنګ ده، د ملت خادمان یو او داسې نور... خو په عمل کې د دي ډول شعارونو پلي کول یو څه ستونزمن دي او تر هغه چې یو مبارزه ډله قدرت ته نوي رسیدلي دغه ډول شعارونه یې په ژبه ډیر جاري وي مګر وروسته د قدرت له ترلاسه کولو هغه پخوانۍ وعدي او شعارونه یوه افسانه پاتې کېږي اوسنی

حاکم نظام باید دغه افسانه په حقیقت بدله کړي او پرینږدي چې د ملت او حکومت تر منځ واټن رامنځ ته او پراخ شي دا یو معلوم حقیقت ده چې تر هغه ملت د حکومت ملاتړ وکړي حکومت هم بقا کوي او که ملت له حکومت مخ واړاوه بیا نو د حکومت موجودیت هم تر سوال لاندې راځي چې په افغانستان کې دا ډول حالات تاریخ ډیر ښه روښانه کړي دي، د حکومت او خلکو تر منځ د واټن را منځ کېدلو عوامل مختلف دي چې په دي مقاله کې یې د لیکلو فرصت نشته خو دومره باید ووایم د ملت هغه غوښتنې او تقاضاوې چې د اسلامي شرعیت او افغاني کلتور سره په تقابل کې واقع نوي او حکمرانانو له لوري په خپل وخت او زمان توجه ورته ونشي نو دا په خپله د ملت او حکومت تر منځ واټن ته لاره هواروي چې اسلامي امارت باید پدې برخه کې عملي او جدي ګامونه پورته کړي.

**یادونه! د حکومتونو بقا او پنا سرکل یا دایره:_** که چیري سوال داسې مطرح کړو چې حکومتونه ولې او کله له منځه ځي؟ د دي سوال ځواب کې لومړی حکومت د یؤ سیستم په بڼه ترسیم کوو، او سیستم داسې تعریفوو (سیستم عبارت له یؤه ډله برخو او اجزاو څخه ده چې ټولې برخې یې یؤ له بل سره په همغږۍ توګه کار او فعالیت کوي که چېرې د یاد سیستم په یؤه برخه کې ستونزه رامنځ ته شي ټول سیستم له خنډ او خطر سره مخ کوي) حکومت او حکومتداری هم همداسي یو سیستم ده چې ټولو برخو کې یې باید پوره همغږي موجوده وي او دقت سره یې امورات تر سره شي.

اصلي موضوع ته راځو هغه دا چې د یؤه نظام سیاسي سیستم له کومو برخو تشکېل شوی ده؟ څنګه کار کوی؟ او کوم حالت کې له منځه تللی شي؟

هر سیاسي سیستم له درې مهمو برخو جوړ شوی دی، چې عبارت دي له:

**الف- روندونه او جریانونه:** دا جریانونه په خپل ذات کې په دو برخو ویشل کېږي. **1-** غوښتنې او تقاضاوې: یعنې د ټولنې غوښتې، اړتیاوي او احساسات دي چې له ساسي نظام څخه د هغو د اوریدو، منلو، او د هغو پر بنیاد د پریکړو او تصمیم نیولو هیله لري یا په بله معنی د خلکو غوښتنې د آزادي، امنیت، عدالت، مشارکت، خدماتو ته لاس رسې او داسې نورو برخو کې له سیاسي نظام او سیستم څخه دي. **2)** ملاتړ او حمایت: د سیاسي حاکم نظام د پلویانو، ملت او هیواد د اوسیدونکو د ملاتړ کچه روښانه کوي چې له سیاسي نظام

څخه يې تر سره کوي چې په دې لړۍ کې هغوی د سياسي نظام او سيستم د کارونو ننداره کونکي شميرل کېږي، او ګوري چې آيا ښه لوري ته ځي او که خراب لوري ته؟ آيا زمونږ ملاتړ او حمايت ته احترام کېږي او که غلطه ګټه ورڅخه اخيستل کېږي؟ او داسې نور، دغه ډول ملاتړ او حمايت هم د سياسي نظام په کچه، هم د حاکم ګوند يا رژيم په کچه او هم په حاکم رژيم کې د افرادو په کچه د وګړو لخوا تر سره کېږي.

**ب- سياست جوړونه او تصميم نيونه:** د يؤ حکومت په سياسي نظام کې د حاکم رژيم لخوا ټول تصميمونه او سياست جوړونه لازمي ده چې د ملت او پيروانو د غوښتنو، رضايت او ملاتړ کچې په نظر کې نيولو سره تر سره شي او که چيري داسي و نشوه نو منفي عواقب رامنځ کوي چې د سياسي سيستم په دريمه برخه کې ورته اشاره کوو.

**ج- فيدبک يا عکس العملونه:** فيدبک يا عکس العملونه معمولاً د ټولنې او ملت له لوري تر سره کېږي او دوه اړخونه لري.

۱. **مثبت فيدبک:** په دې معنی چې که چېرې د حکومت او سياسي سيستم پريکړې او تصاميم د ملت او ټولنې له غوښتنو، رضايت او ملاتړ کچې په نظر کې نيولو سره ترسره کېدلې په دي صورت کې سياسي نظام او سيستم دوام، بقا او پرمختګ کوي.

۲. **منفي فيدبک:** ولې که چېرې د سياسي نظام چلونکو لخوا د حکومت سياسي پريکړې، تصميمونه او سياست جوړونه د ټولنې، ملت او پيروانو د غوښتنو، رضايت او ملاتړ کچې سره برابر او متناسب حالت کې نه بلکې د خپلو علايقو، منافعو، او مزاجونو په اساس ونيول شي، دغه ډول سياسي سيستم او نظام تر ډيره دوام او بقا نشي کولاې، چې په دې صورت کې به حتمي د ټولنې، ملت او پيروانو له مخالفت، عکس العمل، سياسي پاڅون او بالاخره له منځه تلو سره مخ کېږي.

### ۵-۵: په لوړ رتبه بستونو کې د صادقو او مسلکي کدرونو ګمارل

د لوړ رتبه او مهمو بستونو په شمول په مختلفو برخو کې د کاري زمينې برابرول هم له اساسي مسايلو څخه ده چې حکومت بايد توجه ورته وکړي په ځانګړې توګه هغه لوستي ځوانانو او کدرونه ته چې جهادي سابقه نلري ولې دين او وطن ته د خيانت سابقه هم نلري نو داسې ځوانانو او کدرنو څخه بايد د هيواد په ابادۍ

کې په عظمي توګه استفاده وشي تر څو له يو طرفه د دښمن او بهرنيو کړيو د منفي تبليغاتو مخنيوی شوی وي او له بله طرفه د خلکو او اسلامي امارت تر منځ په دي برخه کې چې کوم واټن شتون لري هغه له منځه ولاړ شي.